SHARIAT WEEKLY
شريعت
اوونيزه
په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان
دريم کال دپارلسمه گڼه   پرله پسې (۱۱۳) چهارشنبه د ۱۴۱۸هق کال دذوالقعدةالحرام (۱۲) ۱۳۷٦ هش کال د کب دمياشتي (۲۱) د۱۹۹۸ميلادي کال مارچ (۱۰)

د طالبانو پر خلاف د لويديځ او امريکا پروپاگند هيڅ بنسټ نه لري
په پيل کي د طالبانو مخالف وم خو اوس راته ثرگنده شوه چي دوی رښتيني مسلمانان دي

جنرال حميد گل

د طالبانو پرخلاف د لويديځ او امريکا پروپاگند هيڅ اساس نه لري زه هم په پيل کي د طالبانو مخالف وم خو اوس راته ثرگنده شوه چي دوي رښتيني مسلمانان دي

دا څرگندوني د پاکستان د استخباراتو (اي اس اي) پخواني مشر او مشهور سياست پوه جنرال حـميد گل له کراچي نه له يوي خپريدونکي اوونيزي سره کړيدي چي وحدت ورځپاڼي هم په خپلې د مارچ اوومي گڼې کي را اخيستي دي .

ده ويلي دي چي زما محبت له اشخاصو سره نه بلکه له افغانستان سره دي ده وويل چي ما حکمتيار ته هم ويلي وو چي د طالبانو مخالفت دي نه کوي ځکه ما محسوسه کړې وه چي طالبان د خلکو په زړونو ځاي لري او خلک د طالبانو هر کلي کوي ده وويل چي د طالبانو پر خلاف د غرب او متحده ايالاتو تبليغات هيڅ اساس نه لري جنرال حميد گل پاتې په څلورم مخ

څلورم مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيـر نـږدي دی تقوا(پرهيزگـاری) ته .

(سورة المائدة)

په اسلام اباد کي د افغانستان د اسلامي امارت سفير د پاکستان د بهرنيو چارو له وزير سره وکتل

په اسلام اباد کي د افغانستان د اسلامي امارت سفير محترم مولوي شهاب الدين د لاور د پاکستان د اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو له وزير محترم سردار ايوبخان سره ددي وزارت په مقر کي وکتل .

د اسلام اباد له ښار نه د باختر د اطلاعاتي اژانس خبريال خبر راکړي په کتنه کي دواړو خواوو د علاقي وړ مسالو په باب خبري وکړي . د پاکستان د بهرنيو چارو وزير محترم دلاور ته وويل چي حرنگه چي د افغانستان اسلامي امارت پر قانوني او شرعي حکومت دي له دي امله د پاکستان اسلامي جمهوريت هغه په څلورم مخ

د کابل ولايت د ملکي او پوځي ادارو کره وره د يوې فوق العاده غونډي په ترڅ کي وځيړل شول

د کابل ولايت د ملکي او پوځي دايرو کره وره او فعاليتونه د کابل ولايت د والي محترم مولوي عبدالمنان «نيازي» په مشري د يوي فوق العاده غونډي په ترڅ کي وڅېړل شول .

د کابل ولايت د مقام پوه مربوط خبرځاي په دي باب وويل چي د... غونډي په بهير کي پاتې په څلورم مخ

طي محفل پر شكوه در شهر كابل
از يكصدو يكمين سالگرد وفات مرشد آزاده گان شرق علامه سيد جمال الدين افغاني «رح» يادى به عمل آمد

يكصدو يكمين سالروز وفات بزرگ مرد تاريخ علامه سيد جمال الدين افغاني «رح» بعد از ظهر روز دوشنبه طي محفلي در شهر كابل ياد گ به عمل آمد .

محفل كه به اهتمام و ابتكار اداره هفته نامه شريعت ارگان نشراتي مركزي تحريك اسلامي طالبان تدوير گرديد با قرائت اياتي چند از كلام الله مجيد توسط قاري مولوي الف الدين «عزيزي» رئيس مطبعه آريانا آغاز گرديد.

متعاقباً محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» ص«٤»

ص«٤»

هندوستان ، شصت و پنج نفر كشميري را از رفتن به حج باز داشت

هندوستان شصت و پنج نفر كشميري را از رفتن به حج و زيارت بيت الله الحرام بازداشت .

طبق گزارش منابع خبري جهان حكومت هندوستان رهبران سر كرده، كنفرانس حريت كشمير اشغالي به شمول عبدالغني لون داكتر غلام محمد شصت و پنج نفر كشميري را از اداي فريضه حج منع كرده اند.

اين اقدام حكومت غاصب هند توسط زعماي كنفرانس حريت شديداً تقبيح و مورد انزجار قرار گرفته است .

خبر مي افزايد كه پوليس هند همه رهبران كنفرانس حريت را يا اينكه گرفتار كرده است و يا نظر بند نموده است تا در برابر انتخابات نام نهاد تظاهرات و رهپيمايها را رهبري كرده نتوانند .

روسانو مسعود ته د سلو ميلونو ډالرو په ارزښت د وسلو ورکولو اعلان کړيدي

واشنگټن (اين اين اي)

روسانو اعلان کړيدي چي دوي به د نظار شوري د ډلگي مشر مسعود ته د سلو ميلونو ډالرو په ارزښت وسله او جنگي مهمات ورکوي . روسي مقاماتو ويلي دي چي دوي چمتو دي چي د طالبانو د اسلامي تحريک د مقابلي لپاره د نظار شوري د ډلگي مشر مسعود ته د سلو ميلونو ډالرو په ارزښت وسله او جنگي مهمات ورکړي .

روسانو ويلي دي چي دوي د شمال د ائتلاف د نورو لوبغاړو سره هم هر اړخيزي مرستي ته ته تيار دي .

په همدي خبر کي ويلي شويدي چي روس له دي کبله د اسلامي امارت د مخالفينو ځواکمنېدل غواړي څلورم مخ

كورس كوپراتيفي كارمندان اداره زراعت ولايت ننگرهار پايان يافت

كورس كوپراتيفي كارمندان اداره زراعت ولايت ننگرهار پايان يافت

يك منبع مربوط به آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد در كورس متذكره كه پانزده روز ادامه داشت مضامين عقايد، كوپراتيف ، كريدت ، بازاريابي ، محاسبه ، دفتر داري و تعليم و تربيه كوپراتيفي براي بيست تن از كارمندان آن اداره تدريس گرديد.

د شريعت د عملي نفاذ نه پرته به د سر شميرني اجازه ورنکړو

د صوبه سرحد د کوهستان د ضلعي مشران

د پاکستان د صوبه سرحد د هزاره وېژن د کوهستان د شمالي مشرانو حکومت گواښ کړيدي چي په سيمه کي د اسلامي شريعت له نفاذ د ځنگلو په وهلو د بنديز د حکم نه پورته کولو پرته به سر شميرني ته اجازه ورنکړل شي .

د پاکستاني مطبوعاتو د خبر له مخي د هزاره دويژن د کوهستان د ضلعي په مرکز اموالو ملکاون، سيو، گجرال، توتي، برسين لوئر او ساز په سيمو کي د څو ورځو راپديخوا ددي سيمو د مشرانو او حکومتي مقاماتو تر منځ رواني خبرو کومه نتيجه نه ده ورکړي او د سر شميرني کار له ختم سره مخ شويدي په خبر کي ويل شويدي چي ددي سيمو د اوسېدونکو مشرانو حکومتي مقاماتو ته ويلي دي چي په دي سيمو کي د اسلامي شريعت د نفاذ او د ځنگلونو په وهلو د بنديز د حکم له پورته کولو پرته به چاته دسرشميرني اجازه ورنکړل شي .

خبر زياتوي چي د تيري جمعي او شنبي په ورځ د پاکستان څلورم مخ

به ارتباط فراهم نمودن پرزه هاي فالتوي جنگنده هاي ايف شانزده :
امريكا دو نفر باشنده گان خود را دستگير نمود

واشنگتن : امريكا دو نفر باشنده گان خود را در نيوبارك گرفتار نموده است . اين دو نفر متهم شده اند كه پرزه هاي فالتوي جنگنده هاي ايف شانزده را به ايران صادر مي كردند .

امريكا گفته است كه اين دو نفر با اين پرزه ها پرزه هاي موشكهاي هوا را نيز صادر مي كرد مقامات امريكا گفته اند كه در اين رابطه قبلاً قيودات وضع شده است .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

دکوپوني سيستم په احيا او د عشر او زکوة په منظم ويش سره د بازار نرخونه کنتروليدلي شي

د ۱۳۷٦ هجري لمريز کال پاي ته يو څو شېبي او ورځي پاتي دي او موږ د ۱۳۷۷ هجري لمريز کال د نوي کيدلو په درشل کي يو، دا جوته ده چي د کال په نوي کيدلو سره د پسرلي خوږي ووږمي طبيعت ته نوي ښکلا او تحرک وربخښي او انسانان هم غواړي چي د ژمي د درانده اوږده استراحت نه وروسته د خپل پاېښت او راتلونکي ژوند لپاره د نويو هيلو، آرزوگانو ، طرحو او پلانونو په وړاندي کولو سره خپل ژوند ته نوي رنگ او بڼه ورکړي.

له بده مرغه دوه لسيزي کيږي چي زمونږ مسلمان ولس خپلي ټولي هيلي، ارزوگاني او نوښتونه د جنگ په لمبوکي گير ويني، ډير درانه او د نوښت او ابتکار نه ډک سرونه او شخصيتونه يي له لاسه وتلي او د خاورو لاندي شويدي ، خپلي ټولي شخصي او ملي پانگي يي له لاسه ورکړيدي ، د هيواد ټول علمي، فرهنگي، اقتصادي، اداري ، سياسي او ... بنسټونه يي تخريب شويدي. او په بين المللي ډگر کي هم د پوره انزوا او تجريد په حالت کي قرار لري ، بين المللي ټولني چي ژوند ته يي د کفري طاقتونو تر اثر لاندي رنگ او بڼه ورکول کيږي خپلي مؤثري او پراخي مرستي د افغانستان له مسلمانو خلکو ته سپمولي او د دي مرستو ورکول يي د اسلام او ملي ضد غوښتنو او شرطونو پوري تړلي دي .

اوس چي الحمد لله د اسلامي تحريک په نوښت او همت سره د هيواد په ډېره برخه کي امنيت او سوله ټينگه شويده او په ټولو شرطونو او معيارو پوره يو اسلامي حکومت منځ ته راغلي دي خلک کولي شي چي بالفعل دجنگ له گواښ پرته خپل ژوند او کارونو ته دوام ورکړي او خپلي ويجاړي او خرابي دوهم مخ

دوهم مخ

د کابل په ښار کي دري تنه جوارگر ونيول شول

دري تنه جوارگر د کابل ښار په مربوطاتو کي ونيول شول او د قانون منگولو ته وسپارل شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : دغه جوارگر هر يو عبدالحميد د غلام حسين زوي، محمد کبير د غلام سخي زوي او ايشان د سيد جان زوي د لومړي امنيتي حوزي د منسوبينو له خوا لاس په لاس ونيول شول.

پېښه د زياتو څېړنو په خاطر د کابل ولايت امنيه قوماندانۍ ته وسپارل شوه .

بزرگان و نماينده گان ولسوالي وامه ولايت نورستان طي جلسه فيصله نمودند :
به هيچ شرارت پيشه اجازه نميدهيم كه زندگي صلح آميز ما را مختل سازند

بزرگان و نماينده گان مردم ولسوالي وامه نورستان اخيراً طي محفلي فيصله نمودند كه به هيچ شرارت پيشه اجازه نميدهند تا زنده گي صلح اميز مردم آن ولسوالي را مختل سازد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر اسعد اباد گزارش داد در محفل بعد از آنكه چند ايت از كلام الله مجيد قرائت شد مولوي نعمت الله ، حاجي ملك خان محمد، محمد ابراهيم، مولوي اختر محمد، محمد عثمان، الحاج غلام رباني و الحاج نظر محمد به نماينده گي از مردم آن ولسوالي يك بار ديگر حمايت و پشتيباني شانرا از اهداف امارت اسلامي افغانستان ابراز نموده آماده گي مردم آن ولسوالي را جهت تطبيق آن وعده دادند .

در اخير محفل محترم مولوي فضل كريم ولسوال وامه طي صحبتي از اين احساس آنها قدرداني نموده هر نوع همكاري امارت اسلامي را در زمينه وعده داد .

سه شاخه مسلم ليك با هم اتحاد كردند

راولپندي : طبق گزارش هاي داده شده سه شاخه مسلم ليك ، مسلم ليك ناصر ، مسلم ليك پير پگار و مسلم ليك ملك قاسم بدون گذاشتن كدام قيد و شرط با هم اتحاد نمودند . اين سه شاخه اتحاد خود را طي يك كنفرانس مطبوعاتي اعلام داشتند .

راپور مي افزايد كه چون در اين اتحاد هيچگونه شرط از طرف هيچ جناح گذاشته نشده است بناً بر سر تعين و توزيع پستها كدام جنجال ايجاد نخواهد گرديد.

سمستر جديد كورس عقيدتي و لسانهاي خارجي در وزارت پلان آغاز گرديد

سمستر جديد كورس عقيدتي و لسانهاي خارجي وزارت پلان بعد از ظهر ۱۱ ذي القعده طي محفلي آغاز گرديد.

در محفل بعد از آنكه چند ايت از كلام الله مجيد قرائت شد محترم قاري دين محمد «حنيف» سرپرست وزارت پلان در رابطه به برنامه هاي فرهنگي و آموزشي امارت اسلامي افغانستان ترضيحات داده تدوير همچو كورسها را مفيد و ارزنده خواند.

در مقابل يك تن از استادان و يكتن از طلاب به نماينده گي از ديگران صحبت نموده از توجه امارت اسلامي افغانستان در عرصه تعليم و تربيه و تسهيلاتي را كه جهت تدوير كورس متذكره مساعد ساخته است اظهار امتنان كردند .

همچنان نماينده موسسه لجنة الدعوت ص«٤»

ص«٤»

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوى عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوې گڼې بيه : په هيواد كي (۱۰۰۰) افغانى په پاكستان كى (۳) كلداري
پوست بكس : (٤٧١)
په پيښور كي : دطالبانو نمايندگى ټيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۳۷
جاري حساب : $\frac{۳۸۵}{۷}$ ٤۰ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقاله پاتي برخه

بيرته سمي كړي نو ضروري بريښي چي اسلامي امارت د يو منظم پروگرام او فني پلان له مخي اوپه ځانگړي ډول د ۱۳۷۷ هجري لمريز كال له نوي كيدلو سره هغوي ته لاربښووني او له هغوي سره تر خپل وس پوري لازمي مرستي وكړي او خپل توان ، انرژي او د ولس استعدادونه د ويجاړ وطن د بيرته جوړولو او احيا په لاره كي په كار واچوي . زمونږ په اند دا كار هلته ښه او په مؤثر انداز سره تر سره كيدلي شي چي اسلامي امارت د علمي او فني طرحي او پلان له مخي په خپل واك كي موجودو مادي او اقتصادي امكاناتو نه استفاده وكړي او اقلاً د خپلو مامورينو او كاركوونكو حياتي ستونزو ته پام وكړي .

-دا خو ټولو ته جوته ده چي اسلامي امارت سر بيره پر دي چي د يو لوي او پراخ تحميلي جنگ سره مخ دي او د جگړي بده او كرغيړنه خيټه مړيدل نه لري بيا هم شپه او ورځ د خپلو خلكو د هوساينې او ارامي لپاره هلي ځلي كوي - ولي د فعلي معاشاتو او مادي امتيازاتو په لړلو سره ملكي او عسكري مامورين او كاركوونكي نه شي كولي چي په مطمئن زړه او په مؤثر انداز كار وكړي، هغوي مجبور دي چي د قوت لايموت د پيدا كولو لپاره شخصي كار او مزدوري ته مخه وكړي چي دا كار په منظم ډول او كما حقه انداز د اداري كارونو د ترسره كولو په مخ كي لوي خنډ دي له بلي خوانه اسلامي امارت هم دومره اقتصادي توان نه لري چي د خپلو كاركوونكو معاشات او امتيازات د بازار د نرخونو په اندول برابر كړي او كچيري دا كار وكولي هم شي نو د نرخونو په كنترول مشبته اغيزه نه شي كولي ځكه د معاشاتو لوړول د بازار د نرخونو د لوړيدلو باعث هم گرځيدلي شي.

زمونږ وړانديز او عرض په دي هكله د اسلامي امارت لوړو او صالحه مقاماتو ته دا دي چي اسلامي امارت اوس په خپل واك كي د كرهني وزارت محصولات، د عشر او زكوة يو څه غلي او داني لري همدارنگه د پاكستان نه د پيرل شويو غنمو د تورید لړۍ هم هيواد ته پيل شويده نو ددي لاس لاندي موجود و امكاناتو څخه په استفاده كولو سره كيدلي شي چي مامورينو ته كوپوني سيستم احيا شي او د كوپوني سيستم په چوكات كي د شرعي اصولو سره سم د عشر او زكوة د غلو د ويش منظمي لاري چاري ولټول شي چي په دي اوسني وخت كي حكومتي مامورين له هر چانه ډير مستحق او نيستمن دي يو خو به دا كار د اداري نظام د احيا او سمون په لار كي ډير مفيد او مؤثر واقع شي ځكه چي مامورين او كاركوونكي د كوپون په تر لاسه كولو سره د شخصي او بهرنيو كارونو ته يو څه مستغني كيږي او له خپل كارونو سره به دلچسپي او مينه پيدا كړي او له بلي خوانه به د غلي او داني د تر لاسه كولو لپاره د دوي لاسونه له بازار نه لنډ شي او دا كار به د بازار په لوړو نرخونو باندي ډير لوي اثر هم پريباسي ځكه چي تقريباً د بازار په سلو كي نوي دغلي پيرونكي مامورين تشكيلوي او له بلي خوانه به دا پورتني ياد شوي عوايد لدي لاري په عادلانه او اصولي طريقي سره وويشل شي او د بازار د نرخونو د كنترول لپاره به هم دا عملي لاره وي .

كه چيري د اردو د قطعاتو وجه اعاشه(ډوډي) د سيلو بي نظام په احيا سره تأمين شي چي سيلو د همدي امكاناتو او غلو دانو له لاري اكمال شي نو دا كار به له يوي خوا د اسلامي اردو لاس د بازار نه لنډ كړي چي د بازار د نرخونو په كنترول او ټيټوالي كي هم مؤثر رول لوبوي له بلي خوا نه به د اردو ويجاړ لوژستيكي سيستم بيا احيا او يو څه نوي بڼه به ورته وركړي همدا راز كه د بهرنيو موسسو د غلو دانو او پخي ډوډي د ويش نظام د اسلامي امارت او د دي موسسو د استازو د يو گډ هيئت لخوا تنظيم او مستحقو كسانو ته ورکړل شي نو دا كار هم كولي شي چي له بازار نه د ډيرو خلكو لاسونه لنډ كړي او د بازار په نرخونو به تاثير وكړي او له بلي خوانه به د ناوړو او ناجايزو استفادو چي متاسفانه اوس ډدي مرستو د عادلانه ويش په وړاندي لوي خنډ دي مخه هم ونيول شي.

دوستي او دښمني

پټی پاڼی

شهرت ننگيال

د ايران كيهان ورځپاڼي پخپله وروستي گڼه كي يو خبر خپور كړي چي په تهران كي يو (۳۰) كلن ځوان هغه وخت له ډيري خوشالي نه ليوني شو چي په يوه ترافيكي پيښه كي يي د خپلي خور د وژل كيدو په بدل كي د پنځوس لكه ريالو د وركړي خبر واوريد، دغه ځوان د پنځوس لكه رياله تر لاسه كړل چي له هغي نه تر اوسه د شل لكه ددې په درملو لگيدلي خو لا روغ شوي نه دي .

يو بل خبر داسي دي چي په امريكا كي يو سړي ته پنځوس لكه دالره جايزه ختلي وه: پوست مين(ډاكي) دغي انديښني له امله چي هغه له ډيري خوشالي ژ ړه چاودي نه شي ورته وويل : جناب كه ستاسي د يو لك دالرو جائزه په برخه شي او خبر يي ژما په لاس در ورسيږي بخشش به مي څومره وي ؟ سړي ورته وويل يو زر دالره پيابي وويل كه دوه لكه جائزه وگټي څومره بخشش به راكړي هغه ورته وويل دوه زره ډالره ، داگي همداسي پوښتني كولي چي خبره پنځوس لكو ډالرو جائزي او يو لك دالرو بخشش ته ورسيده د يو لكو دالرو بخشش په اوريدو داكي په ځمكه را وغورځيد او چي په روغتون كي وكتل شو نو دارالمجانين يي ځاي شو .

د ايران او امريكي په اړه دغه دواړه خبرونه يو بل ته ورته دي . توپير په پولي واحد كي دي د ايراني ځوان د ليونتوب عامل پنځوس لكه رياله ؤ او د امريكي پنځوس لكه دالر ، د پيسني په څرنگوالي كي هم توپير شته ايراني د خپلي خور د مرگ بيه تر لاسه كوله او امريكايي لاټري گټلي وه . د ايراني خوښي د خپلي خور د مرگ په غم كي وه وايي چي څوك مړ نه شي بل نه مړيږي ، د ايراني مړينت د خور مرگ ؤ ده ته په غم كي خوشالي سترگكونه ووهل خو په دغه سترگك كي يو بل شرارت پټ ؤ په حقيقت كي له غم نه په زيږيدلي دغه خوشالي كي يو بل غم پټ ؤ ، ځكه خو څوك بايد د بل په غم كي خپله خوشالي ونه لټوي د بل په مرگ كي خپل مړينت ونه گوري.

ايران او امريكا د دوستي او دښمني بيل بيل تاريخونه لري، دوي د يو بل د دوستي خوند هم څكلي او د دښمني هم، د عبدالقادر حسن په وينا دوي په دوستي او دښمني دواړو كي افراط كړي، د دوستي يو تصوير يي دا دي چي كله رضا شاه له ايران نه وتلو ته اړ شو نو امريكي ورته د څو ورځو آرام لپاره هم زړه ښه نكړ او د سرطان په ناروغي بيمار رضا شاه د افريقي په يوه وروسته پاتي هيواد مصر كي واړول او هملته مړ شو .

امريكي يي له زوي سره دومره دوستي وپالله چي د ده لپاره يي په زغرده يوه مياشت مخكي دا اعلان كړ چي امريكه به د ايران په تلويزيوني شبكو او څپو داسي جادو كوي چي د نيم ساعت لپاره به يي خپروني قطع او د رضا شاه د زوي وينا به خپره شي، ايران كه هر څو لاس پښي ووهلي خو په ټاكلي مهال د تلويزيون په سكرين ايراني خپروني گل شوي او د رضاشاه زوي هسكه غاړه څرگند او د ايران ملت ته يي نيم ساعته وينا وكړه .

اوسني جمهور رئيس ښاغلي خاتمي بيا د امريكي د ملت په نوم تلويزيوني وينا وكړه داسي فكر كيده چي دي هغه تير بدل اخلي خو دده وينا معذرت خواهانه وه، پدي معنا چي د امريكي له ولس نه يي د هغه درد او دوك بخښنه وغوښتنه چي د اسلامي انقلاب له بري وروسته د امريكي د سفارت د يرغمل نيولو له مله هغوي ته رسيدلي دي .

موږ مخكي وويل چي ايران او امريكه د دوستي او دښمني دواړو ماضي او تاريخ په مخ كي لري اوس به تجربه شوي وي چي په دوستي كي گټه وه كه په دښمني كي يا هم په دواړو كي .

دغسي ورته والي د امريكي او عراق تر منځ هم ليدل كيږي ښايي د نورو تر منځ هم دغسي مثالونه وموندل شي امريكي د عراق او ايران په جنگ كي د عراق مرسته وكړه، خو وروسته موږ ټولو وليدل او وينوبي چي امريكي له عراق سره څه وكړل. كله گټه په دوستي كي وي، كله په دښمني كي، خيره د منافعو او د خان د نوكري ده نه د بانجان .

ځكه خو دغسي دوستي او دښمني د وخت وخت خبره ده . كه ايران ، عراق او ... هم د دغي دوستي او دښمني نه په خپل خپل وخت گټه اخيستي وي بايي واخلي دا كار بيشكه چي كمال او يو مناسب بدل دي .

اسلامي امارت د معارف په بيا رغونه كي چټك گامونه اوچتوي

محقق محمد شريف «ځدران»

كه څه هم اسلامي امارت ته د معارف په برخه كي د شل كلني جگړي څخه په ميرات تشي كندوالي پاتي دي، خو سره له دي يي د معارف بيا رغوني او پرمختيا ته له لومړي ورځي جدي پاملرنه كريده او په دي برخه كي يي د پادوني ور چاري پر مخ بيولي دي . د هيواد په زياتره برخه كي سوونځي او پوهنتونونه د وسله الو دلو له شتون او شر څخه پاك او د سووني او روزني پر مخ خلاص شول او انشاء الله د ټول هيواد په سطحه به د بي وسلي كولو، سولي او محمدي شريعت د تامين او پلي كولو سره، جوخت د معارف د بشپړي بيارغوني جريان نور هم گرندي شي .

هوكي ! مونږ ټول افغانان شاهد يو، چي اسلامي امارت ته د معارف پرازي تشي كندوالي پاتي دي او د هيواد په سلو كي سل تعليمي موسسي او سوونځي يا بيخي وران او يا د تدريس له پاره هيڅ مساعد نه دي، لكه چي پر دغه واقعيت باندي د شر او فساد د پخواني اداري وزير پوهاند محمد فاضل د يونسكو په ۲۸ مه عمومي غونده كي د خپل گزارش د وړاندي كولو په ترڅ كي اعتراف كړي او داسي يي ليكلي دي : « د لومړنيو، منځنيو، ثانوي، تخنيكي او سواد حياتي په ښوونځيو او د عالي زده كړو په انستيتوتونو كي په ټوله سطحه ښوونيز او روزنيز خدمتونه په خرابه ؤ بدل شوي اوښتي دي، د دريو زرو څخه زيات ښوونځي وران شوي ، مسلكي ښوونكي او د پوهنتون استادان يا شهيد شوي او يا د مسلك او وطن پريښودلو ته اړ شوي دي . تقريباً د لومړنيو، منځنيو او ثانوي ښوونځيو، د مسلكي او ښوونكو د موسسو دوه پر دريمه برخه وداني زيانمني او وراني شوي دي (مجله عرفان، ۱۳۷٤، ٤۰-٤۱ مخونه)

بالكل ربښتيا ده چي اوس بايد اسلامي امارت د معارف په برخه كي له صفر څخه كار پيل كړي، ځكه د معارف اساسي عناصر لكه ښوونكي، استادان او زده كوونكي يا په جگړو كي شهيدان او يا وطن پريښودلو ته اړ شول او يا خو د يوي گولي ډوډي له پاره لالهانده دي. تعليمي نصاب وجود نه لري، كتابونه، درسي مواد او وسايل او وداني لږ او يا د جگړي په اورونو كي لوټ شول . حتي تر اوسه پوري په اسلامي امارت تحميلي جگړه او بهرني لاسوهني د هيواد د يو شمير سيمي تهديدوي او د معارف د بيا رغوني لپاره د ټول هيواد په سطحه سوله ايز شرايط او لازم محيط نه دي ايجاد شوي او بايد په ياد ولرو چي د ښووني او روزني لپاره تر ټولو غوره او لومړي شرط سوله ايز محيط دي .

معارف د هري اسلامي ټولني او هيواد روح بلل كيږي او د هر مؤمن د اخروي او د دنيوي ژوندانه د پيژندني ، سمووني، او هر اړخيزي نيكمرغي او پرمختيا تر ټولو غوره بنسټ تشكيلوي او بايد ووايم چي زموږ د ملي ، اسلامي او عصري معارف د بنسټ زرين اصول په قرآن مجيد او نبوي احاديثو كي د لمر په شان روڼ او څرگند دي چي د هغوي په رڼا كي موږ ټول افغانان او په سر كي اسلامي امارت دنده او وجيبه لري چي د معارف د بيا رغوني كار پيل او د پوهنا كيدو له خطر څخه يي وژغورو، هر اړخيزه وده او پرمختيا وركړو، څو د وخت او زمان اړتياوو ته په ملي او نړيواله سطحه ځواب ووايي . موږ بوازي د معارف د هر اړخيزي ودي او پرمختيا پر بنسټ كولاي شو، چي په نړيوال ډگر كي سيالي وكړو او د خپل لرغوني هيواد بشپړه سياسي، اقتصادي او ټولنيزه خپلواكي وساتو، او دنده په هيواد كي خپل هر وگړي خداي پال او د علم او تخنيك له پلوه پر ځان متكي او توښتگر وروزو.

بي له شكه يوازي خداي پال، علم او تخنيك پيژندونكي ، پر ځان متكي او توښتگر افغان كولاي شي، چي دا په ميرات را پاتي وران ويجاړ هيواد او معارف بيا له سره ودان، وده او پرمختيا وركړي. دغه ملي او اسلامي هدف ته د رسيدو په خاطرو ، چي اسلامي امارت د خپلو نورو اقداماتو تر څنگ په دي تيرېدي راتلونكو ورځو كي د معارف د رئيسانو يو پراخ سيمينار په كندهار كي غوښتي دي، چي په طبيعي ډول به د معارف د بيا رغوني له پاره لازم او جدي پلانونه او تدبيرونه ونيسي.

دغه سيمينار كه له يوي خوا د معارف د بيارغوني او فعالوني په كار كي يو اوچت گام دي، خو له بلي خوا به د هيواد د معارف په وړاندي موجوده ستونزي، د حل لاري، داخلي او خارجي معنوي او مادي امكانات او مالي مرستي ، تعليمي نصاب، درسي مواد او وسايل، د زده كوونكو او ښوونكو په اړوند نوري بيلابيلي ښوونيزي او روزنيزي مالي وڅيړي او د راتلونكي تعليمي كال له پاره په يوه معقوله او د تطبيق وړ كړنلاره وړاندي كړي

او انشاء الله ددغي كړنلاري او تدبيرونو په اړا نه كي به اسلامي امارت د پوهني د وزارت له لاري د معارف په بيا رغونه كي چټك او اغيزمن گامونه اوچت كړي او د هيواد بچيان به يو ځل بيا د پوهني په پلوشو كي خپل ځوان او خداي وركړي استعدادونه وروزي .

نو بيا! همداسي ښه يو

نظر محمد مطمئن

اوس به ډير كم داسي څوك پيدا شي چه هغوي دي ښو ته ښه او بدو ته بد ووايي .

كه هر چيرته لاړ شو او هر لور ته وگرځو نو دا ډول دنياوال به پيدا هم نكړو.

هو! منصور همداسي كول او د خپل زړه راز يي نشو ساتلي او په لويو لارو كي بي په واژه خوله ناري وهلي چي انا ... چي انجام يي ټولو نړيوالو ته ښكاره دي .

د منصور دار ته ختل موږ ته ډير ښه پند او عبرت دي. خو هغه داسي نه چي ! موږ له ربښتيا ويلو خپلي خولي پټي او ژبي پري گونگي كړو. ځكه دي تر اوسه د حق ويلو په جرم دار ته د ختلو وياړ لري .

خو كله كله داسي هم كيږي چي ربښتيا ويل سړي له پوړونو نه لاندي راگذار كړي داسي گذاريدل چي بيا د قد سمول هم ورته گران وي.

هو كه موږ ربښتيا نه ويل، كه موږ د ښه او بدو توپير نه كولاي، كه مو د لويانو بد ته ښه ويلاي . كه مو د لويانو غلطي او بي مفهومه خبري ښي او ارزښتمني بللاي. كه مو د لويانو قهر او غوسه هم د ځان لپاره ناز او وياړ گڼلاي . كه مو له هغوي سره خبره كول هم غنيمت بللاي . كه مو د هغوي هر عمل، ښه او بد ښه بلل كه مو هر امر ته لبيك وايه او كه مو د هغوي په هر خيانت سترگي پټولاي .

كه مو د هغه له مخي د هغوي دوړو هم عزت او درناوي كولاي. كه د هغي د كورني احمقانو ته هم لاس په نامه او چپ ولاړ واي.

ولي كه موږ ربښتيا ويل. او موږ د لويانو ، حكمرانانو او امرانو راژوته ښكاره كول. كه موږ خيانتونه شودل. او كه موږ دغه لوي ته پواځي بادار او د عزت وړ اولايق څښتن الله په گوته كاوه او بالاخره ! كه د لويانو له هسي خوزيدو سره هم ولاړيدلو نو بيا هو ! بيا به موږ شكلي او شايسته خلك وو . بيا موږ پوه او هوښيار خلك وو بيا موږ په خبره پوهيدونكي او مؤدب كسان وو او موږ به تر ټولو صادق او مخلص ملگري وو .

خو نه نه موږ به داسي ذلت او غلامي ته هيڅكله غاړه كينږدو موږ همداسي ښه يو لكه چي دا يو ! همداسي لويدلي او د ځمكي په مخ پراته ښه يو همداسي خوار او غريب ښه يو همداسي بي ځوكي او بي اهميته ښه يو، او بالاخره همداسي بي وسه او ناتوانه د چا نه پكار ښه يو. همداسي ښه يو نه دا چي دروغجن او مختورن نه دا چي غله او د بنده بنده گان و اوسو هو.نه دا چي د بنده بنده گان يو .

موږ الله ازاد پيدا كړي يو . ازاد وو ازاد يو او ازاد به يو نه به غله او نه به لوټماران يو موږ ٥ «منصور سر په دار ښه يو . لاړ لدي دنيا يو٘ښه ده چي د منصور غوندي دنيا كي سر په دار ښه يو .

د نن ځوانان د سبا مشران

صفحه اختصاصی جوانان

د نن نیالګي، د سبا سیوري

پیسي اوښته، نښي کولاي يو هيواد بډاي او د سيالو ډلو په کتار کي د دريځلو مقام ورپه برخه کړي. دغه امکان او راز د يو هيواد د ځوانانو د ميتو په رغوو کي ليکل شويدي او بس. که چيري يوه ټولنه بد مرغه او يا د نيکمرغي پړاو ته ځان رسوي په دواړو حالاتو کي مسؤلين ځوانان دي دا ځکه چي د ځوانانو قشر د يوي فعالي او خوځنده انرژي په غاړه لري. همدا ځوانان دي چي فتحي او ماتي را منځ ته کوي او همدا ځوانان دي چي جغرافيه جوړوي تاريخ ته تور او يا سپين رنګ وربخښي. سپين ږيري خو د تير شويو عمرونو د پيښو نه د پايلي اخيستني يادنه پرته د بل شي ځواك نښي لرلاي اوو ورځي د نصيحت کولو نه پرته بله دنده سرته نښي رسولي. د کړنو او عملونو طمع يواځي له ځوانانونه کيداي شي. که چيري ديوي ټولني د ځوانانو بهير د منفي جهتونو په لوموکي ښکيل او فکري استقراري سيلاب او د بصارت ځواك يي کمر او د نژادي، سيمه ايزو توپيرونو په ناروغيو اخته وي بيا پداسي حال کي د هغي ټولني راتلونکي بايد د يوي بدي راتلونکي انتظار وباسي.

نو ګرانو ځوانانو! ددي وران ويجاړ تاتوبي د راتلونکي ځراغونه تاسي ياست که چيري تاسي د اسلامي شرعي نظام تابع او د سالم تربيت لرونکي واوسي خو ښه، او که چيري ددغو قواعدو برعکس حالت ولري نو تاسو پخپله قضاوت وکړي چي زموږ راتلونکي به څرنګه حال ولري؟ تاسو هغه نيالګي ياست چي د پرونيو په لاس اينبودل شوي يي او همدا پروني د ستاسو د سيوري لاندي د کښيناستو طمع لري. او د نن کوچنيان او يتيمان چي د بل سبا ځوانان دي د هيلو سترګي يي يواځي ستاسو په لور غړيږي. او له تاسو نه د اسلامي او شرعي نظام ټينګښت، د وطن د سوکالي او جوړيدني کاريواځي او يواځي د خداي "ج" په نصرت او ستاسو له ميتو ځخه غواړي. او دا تاسي بايد د اسلامي او انساني رسالت په غاړه واخلي.

حکایت

دو امير زاده در مصر بودند يکي علم آموخت و ديگري مال اندوخت. عاقبة الامر آن يکي علامه، عصر گشت و اين يکي عزيز مصر شد. پس اين توانگر بچشم حقارت در فقيه نظر کردي و گفتي: من به سلطنت رسيدم و تو هم چنان در مسکنت بماندي. گفت: اي برادر، شکر نعمت باري، عزاسمه. همچنان افزونتر است بر من، که ميراث پيغمبران يافتم، يعني علم. و تو را ميراث فرعون و هامان رسيد، يعني ملك مصر.

من آن مورم که در پايم بمالند
نه زنبورم که از دستم بنالند
کجا خود شکر اين نعمت گذارم؟
که زور مردم آزاري ندارم

د غني "هاشمي" "د خيال هنداري"

نور محمد لاهو

زموږ ننني شعري بهير د ښکلا او مينې په سندرونو کي لاهو دي او تر پروني شعر ځخه يي ښکلا تيز ماتيز، جولېز اړخ خو چنده زيات او د پاملرني وړ دي زموږ د نن شعر د پرون شعر «د ښځو سره مسخري ټوکي ټکالي کول» ځخه واټن نيولي او د عاطفي او صميميت شاخص يي د ځپلي لاري مشال ګرځولي او د انسانيت چيغه يي نړيوالو ته اوچته کړه او په ځپلو خوږو او ژوبلو مصرو يي هنري رسالت ته مقام وربخښلي. د نن شعر ښايست لري او د سايست په ځنګ کي د هر سخت زړي په سينه کي ويدو احساساتو او عواطفو ته تخني ورکوي او د زړو وچي ځانګي خړوبوي تر ځو ښيرازي شي تر ځو د صميمت او صحبت ښکلي ميوي راوړي. هوکي، د همدغسي يو شيتکي بهير يو بل لاروي تاسو ته درپيژنو چي شعر ليکي او د زړه له ويتو د غزل ځهو ته ګل جوړوي او په عطرونو يي زړونو ته تاز ورکوي. دغه لاروي غني «هاشمي» دي غني هاشمي د ننګرهار د شاعرانو د سمسور بڼ خوږ غږي بلبل او ميتکر شاعر دي د ننګرهار په فرهنګي غونډو کي بلا ناغه حاضروي او تل يي د شعر د رباب تارونه د مشاعري شهباز ته سترګي‌پلار وي د هاشمي په شعرونو کي چي د ننګرهار د شعري هار غمي يي هم بللي شو. د نوموړي شاعر په شعرونو کي ځانګړي مينه او خلوص، د وطن درد او ويجاړي د تالانګرو نادودي، د يتيمانو چيغي، د بورو کړيکي، د ځوانانو هديري، ځيري شوي پروني، لمبه شوي کوروته، او سوزېدلي غنچي تر سترګو کيږي. چي په ښه هنري انداز سره يي بيانوي:

زخمي زړګي، زخمي وطن، زخمي ارمان ساتمه
زه هم په زړه کي د زخمونو يو جهان ساتمه
بيا هغه زوړ جادوګر وړي رانه د روح امانت
لکه غمي د زړه په ګوتو کي ايمان ساتمه
رنګين انځور د ژوند پر پاڼو پاڼو کاږمه خو
د عقيدت پر پاڼو نوري د قرآن ساتمه
اويا دغه لانديني شعر:
اي د زمان په اننګو د ويشو ځال وطنه
د پرېښتو په ځېو خاندي ستا جمال وطنه
باغي نيليسوته د زړونو مراندي ته ټينګيري
ځنګه به ومني په پښو کي د چا نال وطنه
په پلوشو به دي سينګار کړم د زړګي په ګوتو
کنه چيري وخشمه تيال ته د هلال وطنه

او يا دا بل شعر:

د زړه په پرهرونو مي غزل ليکلي دي
په ځاله د دردونو مي غزل ليکلي دي
د مات زړه له ټوټونه مي آشنا ته محل جوړ کړ
په خپل زخمي لاسونو مي غزل ليکلي دي
زما په ليونتوب کي هم فيضونه ټوکيدلي
په دنګو دنګو غرونو مي غزل ليکلي دي
ګلبڼ ته د آشنا مي له خپل زړه نه برخه ورکړه
پر پاڼو د ګلونو مي غزل ليکلي دي

بله خبره چي د يادوني وړ بولو هغه د شعر بنسټيز ارکان دي لکه اند، فکر، آهنګ او عاطفي ترون دي چي د هاشمي په شعرونو کي په پوره اندازې تر سترګو کيږي زيار باسي چي هسي خبري دوزن په پنجروکي زنداني نکړي دا ځکه چي هر شعر، شعر ندي لکه د يو شير ځينو کسانو په ځير چي قلم يي راپورته کړي او يو ځه توري يي د وزن په هارکي پيبلي او د شعر ملکي ته يي سپکاوي کړي دي او عامه ځوان ذهنيت ته يي هم زيان رسولي دي او د خلکو د شعر خوښوني معيار يي ټيټ راوستي او پرته له دي چي د خلکو په زړونو کي د عاطفي ايجاد را منځته کړي هماغه ورځني تکراري او قرار دادي خبري صادروي او سوليدلي او تاريخ تير شوي سبولونه تکرار روي چي غني هاشمي ددغو شاعرانو ځخه واټن موندلي دي په پاي کي دا وايم که چيري تر پايه پوري زموږ ځوان شاعر غني هاشمي په همدغه معيار او دريځ باندي ولاړ پاتي شي نو په راتلونکي کي به انشاء الله تر ي يو لوي شاعر جوړ شي او ځاي به يي خالي وي. دښي پايلي په خاطر د هاشمي د شعر په ليکلو خداي په امان کوم.

د ويتو په پل لاروهي وختونه د کابل
نړيږي په سلګو سلګو کي غرونه د کابل
لوګرو چي ربيلي ورته تاندي تاندي ځانګي
په سترګو کي مي ګرځي تالانونه د کابل
شهيدي کوم تورتم ورته د وړانګو پرښتي کړي
چي مړه دي په هر کور کي ځراغونه د کابل
زما په وينو ليکه دکرکيس د پاڼو کربني
چي هير نښي قلمه سره وختونه د کابل
****

زخمي زړګي، زخمي وطن، زخمي ارمان ساتمه
زه هم په زړه کي د زخمونو يو جهان ساتمه
د ژوند شيبي مي ويني ژاړي د موسکا په اميد
زه لا سينه کي د باغي ځپيکو توپان ساتمه
د غم جنوته واخله يو سه د شعور ګلپاڼي
ځو به دا ستا په سرو منګولو کي ګريوان ساتمه
خوني قلزوم بيا برغمل ته ښاپيري لتهوي
چي د شهپال زړه تر وزر لاندي جانان ساتمه
په سمندر کي د سرو وينو، ځپو ښکيل کړم بادا!
ستا د راتلو په لور نظر لکه بادبان ساتمه
ځو ښکاروي پرنګ صياد هوسي هوسي خيالونه
د فکر پړانګ د زړه په غرونو کي امکان ساتمه
بيا هغه زوړ جادوګر وړي رانه د روح امانت
لکه غمي د زړه په ګوتو کي ايمان ساتمه
رنګين انځور د ژوند پر پاڼو پاڼو کاږمه خو!
د عقيدت پرپاڼو توري د قرآن ساتمه
ما «هاشمي» ته خدايه شني که کړي د بازوزري
د غرو له ځوکو دي تنزروته بيابان ساتمه

ای ځوانه!

ډاکټر باز محمد ښادمن

زه لا ډير کوچني وم چي په غوږو کي به مي رنګارنګ اوازي راتللي. کله به مي فکرو کړ چي خوب وينم بيا چي به مي د لمر زريني وړانګي د مځکي په مخ وليدلي بيرته به مي ټکان وخوړ چي نه ويښ يم.

ځومره چي زه د عمر په لحاظ لويدلم دومره مي غوږونه له رنګارنګ خبرو سره اشنا کيدل تر ځو چي لږ وپوهيږم او دا راته معلومه شوه چي د نړي په حوادثوکي انسانان مهم رول لوبوي.

انسانان! هوا! ريښتيا انسانان دي چي په مځکه پاچاهي کوي او ځوانان دي چي په خپل وخت او خپله ځواني کښي هغه هيلي لري چي په بل وخت کښي له انسان سره نښي پيدا کيدلي. ځرنګه چي غربي ځوانان د عياشي او بي بندو باري هغه پړاو ته رسيدلي دي چي په دي پړاو کښي يي له غمونو او انديښنو ځخه بل ځه نشته او حتي غربي نړي ټوله په داسي تشويش کي اخته ده چي په کور کښي يي ممکن د ايدز مرض وجود.ولري. دا لا ځه کوي هغه خلك چي د غربيانو له تمدن سره اشنا شوي دي. او د هغوي په پل يي پل ايښي دي هم د ايدز د مرض له وهمه په خوب کښي ويريږي او په ويښه يي سترګي هغه اميد ته وچي شوي دي چي ګوندي د ايدز د مرض علاج پيدا شي مګر ارمانونه يي تر اوسه نيمګړي پاته دي.

اي ځوانه! ته چي د اسلامي نړي اوسيدونکي يي شکروباسه چي له داسي آفاتو ځخه په امان يي هغه آفتونه چي د ژوند ترڅوالي منځ ته راوړي. زه دا نه وايم چي ته د غرب له ساينس او تکنالوجي ځخه ګټه مه اخله تاسو ته معلومه ده چي يو عربي بيت داسي ده «له هر ځه ښه شي را اخلي او بد په بده لاره پريږدي» زه دا ويل غواړم چي هغه عياشي او بي بندو باري چي نن په غربيانو کښي موجوده ده نه ترينه ځان وساته او کوښښ وکړه چي د غربيانو د خرابو تبليغاتو چي په ډيره خوږه ژبه يي بيانوي ښکارونه ګرځي.

ځلور توري

محمد نعمان «دوست»

د انسان مغز لکه د تختي مثال لري هر ځه پري ليکل کيږي موږ پردي تختي ډير ځيزونه وليکل. چي ځيني مو په ګټه او ځيني مو د ځان، هيواد، خاوري او... په زيان وو زموږ مغزو ډير شيان ثبت کړل. خو ځه له منځه لاړل او ځه لا اوس هم پاتي دي.

راځئ: چي له دي پاڼو ځخه ځلور توري بالکل وران کړو او د تل لپاره يي له ذهن نه وباسو. ځکه دي ځلور تورو (ج.ګ.ړ.ه) «جګړه» زمونږ وداني، وياړونه، ځوانان او ... له منځه يووړل ښه به نه وي چي ددي پر ځاي ځلور نور توري وليکو؟ ګوندي زمونږ دړيدلي او کړيدلي ولس ته هميشني درمان شي! راځئ توکل په خداي «ج» په خپلو زړونو په پوره شوق دا ځلور توري (م.ي.ن.ه) «مينه» وليکو او خپلو مغزو کي ورته د تل لپاره ځاي ورکړو. انشاء الله هر مشکل به حل شي.

سنګسار

رحمان بابا

نن چي صبحه دا روښانه لار صحيح کړه
ناګهانه به دا صبحه شب تار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه
هر يو نخل چي ميوه لري سنګسار شي

نکته ها

* اگر دروغگو نمي بود راستگو شناخته نمي شد
* شمشيري عليه مهرباني وجود ندارد
* بکار هاي زشت عادت مکن زيرا ترك آن مشکل است
* نظم در زندگي بهترين داروست
* کسي موفق و کامياب ميشود که زود خسته نشود و حوصله فراوان داشته باشد
* اگر ميخواهي زياد عمر کني در جواني پير شو
* نه از خودت تعريف کن و نه بدگويي
****

غوره خبري

- که چيري نيکمرغي غواړي نو زړه کي د غوره افکارو او خيالاتو هسته جوړه کړه.
- خپل دوست ته داسي تحفه ورکړه چي لږ تر لږه لومړي ستا اخلاص او هم ستا خوښه پکي جوته شي
- جاهل د مال غوښتنه کوي او عاقل د کمال.
- د ژوند هره ورځ ستا د ژوند د تاريخ يوه پاڼه ده.
- دولت د هغه چادي چي خوري يي، نه د هغه چا چي ګټي يي.
- په عذر او توبه کولو د ځښتن تعالي «ج» له عذاب ځخه نجات موندل کيږي خو د خلکو د خولي د ضرر ځخه هيڅوك نجات نه مومي.

آيا ميدانيد؟

ادسيون مخترع معروف امريکايي هميشه ميگفت (خوابيدن جز ضايع کردن وقت و نيروي حيات و از دست دادن شانس است) معروف است که خود او شبي بيش از دو ساعت نمي خوابيد اما در عوض بلد بود که در طي کار روزانه اش چگونه ساعتي روي يك کوچ راحت لم بدهد. و چشمها را ببندد و عضلات خود را کاملاً شل کند و به هيچ چيز فکر نکند.

چنين حالت را در اصطلاح طب رلاکس ميگويند و در سال هاي اخير براي آن به حدي اهميت قايل شده اند که بسياري از خواب شناسان ميگويند (بجاي اينکه يك قرص خواب آور به کس تجويز کنيد بهتر است شيوه رلاکس صيح را به او بياموزانيد) عادي ترين و سهل ترين روش رلاکس همين است که روي کوچ يا محل آرام دراز بکشيد و چشم ها را ببنديد و به آرامي نفس بکشيد و در همان حال بخود تلقين کنيد که کاملاً آرام هستيد و البته اين تلقين را با عمل نيز بياموزيد همه انديشه هاي ناراحت کننده را از خود دور سازيد. البته همانطوريکه ذکر شد اين يك روش بسيار مقدماتي است عده کار شناس و مربي رلاکس هستند که شيوه صحيح اين نوع استراحت را به اشخاص مي آموزانند و کساني که اين روش را بخوبي آموخته باشند به آساني ميتوانند چند ساعتي بي خوابي و يا کم خوابي خود را با يك ساعتي و حتي کمتر «رلاکس» جبران کنند و نشاط و نيروي خود را باز يابند.

دا حکم يوازي ستا لپاره دی

يو سړي د حضرت محمد «ص» په حضور مشرف شو او دغسي عرض يي وکړ چي يا رسول الله زه تباه او هلاك شوم

حضرت وفرمايل چي: ولي ځه درباندي شوي دي. هغه وويل چي د رمضان المبارك په ورځ کي مي له خپلي ښځي سره کوروالي کړيدي حضرت وفرمايل: چي يو غلام آزاد کړه هغه وويل چي يا رسول الله زه يو ناتوان سړي يم غلام له کومه کړم؟

ارشاد وشو: ورشه دوي مياشتي روژه ونيسه. هغه وويل ددغو دوو مياشتو روژي نيول هم زما له لاسه نه دي پوره هدايت وشو چي شپيتو مسکينانو ته خواړه ورکړه. هغه عرض وکړ چي يا رسول الله دومره توان هم نه لرم چي شپيتو تنو مسکينانو ته طعام ورکړم دلته اتفاقاً له کوم ځاي ځخه د حضرت محمد «ص» په حضور کي يوه ډکه ټوکري خرما راغلله حضرت «ص» ورته وفرمايل چي ونيسه همدا خرما په غريبانو وويشه. هغه سړي داسي عرض وکړ چي: يا رسول الله د هغه خداي په نامه قسم يادوم چي ته يي خپل د استازي په توګه رالیږلي يي چي په ټوله مديني منوري کي تر ما غريب او ناتوان بل څوك نشته دلته حضرت مبارك تا ځاپه مسکي شو او دغسي ارشاد يي وفرمايه: ښه ده ورځه ته يي په خپله وخوره او دا حکم يوازي ستا لپاره دي.

طی محفل پر شکوه در شهر کابل از...

معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور و مدیر مسوول هفته نامه شریعت پیرامون شخصیت ملي و تاریخي علامه سید جمال الدینؒ افغان صحبت همه جانبه نموده و اظهار داشتند : ما در محفلي گرد هم آمده ایم که در آن یادي از شخصیتي میشود که آن شخصیت نه تنها مایه، ناز و افتخار براي جهان اسلام و امت اسلامي بوده بلکه به حیث محسن و رهنما و به حیث استاد و مرشد براي کلیه مستضعفین و مظلومین جهان مورد قدر و احترام بوده و همه به شخصیت بزرگ آن محسن جامعه افغاني خصوصاً در قرن نوزدهم احترام قایل هستند .

بعدا زنده گي نامه علامه سید افغاني توسط محترم احمدضیاً «شریفي» یکتن از فرهنگیان شهیر کشور به خوانش گرفته شد .

سپس پیامهاي موسسه نشراتي انیس و اداره شعر و ادب وزارت اطلاعات و کلتور که عنواني این محفل ترتیب گردیده بود توسط محترم طالب العلم خادم احمد «حقیقي» رئیس موسسه نشراتي انیس و محترم داکتر باز محمد «نبادمن» قرائت گردید.

همچنان در این محفل محترم ایت الله تقدسي یك تن از علماي جید اهل تشیع ، محترم سید امین مجاهد رئیس انستیتوت تاریخ اکادمي علوم افغانستان ، محترم نصر الله «ستانکزي» استاد پوهنحي حقوق و علوم سیاسي پوهنتون کابل، محترم داکتر محمد محفوظ «ندایي» عضو اکادمي علوم افغانستان مقالات شانرا که پیرامون شخصیت تاریخي و فرهنگي، سیاسي و افکار جاویدانه آن بزرگ مرد تاریخ ترتیب نموده بودند بالترتیب به خوانش گرفتند .

هکذا در قسمتي از محفل محترم قاضي محمد حسن«حقیار» و محترم نصر الله «حافظ» اشعارشان را که در همین رابطه سروده بودند به خوانش گرفتند.

کار محفل توسط محترم رحیم الله «زرمتي» معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور ارزیابي گردیده تدویر همچو محافل را در جهت رشد و ارتقاء فرهنگ اصیل کشور با ارزش خواند.

در این محفل که در آن عده از اراکین بلند پایه امارت اسلامي افغانستان و برخي از شعرا، نویسنده گان ، علما و ژورنالیستان اشتراك ورزیده بودند با قرائت دعائیه توسط محترم مولوي «زرمتي» خاتمه پذیرفت .

وزیر خارجه عراق عازم نیویارك مقر ملل متحد شد

محمد سعید الصحاف وزیر خارجه عراق بغداد را به قصد مقر سازمان ملل متحد در نیویارك ترك گفت تا در آنجا معامله فروش نفت جهت خریداري مواد غذايي را مورد بحث قرار دهد .

انا آژانس خبري عراق گزارش میدهد الصحاف در رأس یك هیأت عراق عازم نیویارك گردیده و در نظر است تا در آنجا اقدامات و تدابیر مربوط به افزایش فروش نفت را جهت خریداري مواد غذايي ادویه و دیگر ضروریات اساسي مبتني بر تفاهم اخیر میان طرفین مورد بحث قرار دهد .

آژانس همچنان خاطر نشان نموده وزیر خارجه عراق در جریان این مسافرت با کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد روي یاد داشت تفاهم جدید که از طرف عراق و ملل متحد روي باز جویي از تأسیسات مشکل عراق عقد گردیده تبادل نظر نماید.

کشور عراق تحت تعزیرات ملل متحد صلاحیت دارد که در طول هر شش ماه به ارزش دو عشاریه یك ملیارد دالر نفت را جهت خریداري مواد اولیه به فروش رساند.

ملل متحد اخیراً تصویب کرده است که بغداد مي تواند در این مدت به ارزش پنج عشاریه بیست و شش ملیارد دالر نفت را به فروش رساند.

د پکتیکا ولایت د فورمولي کوټ په کلي کي د شهیدانو لوړ مقام ته د درناوي غونډه وشوه

د پکتیکا ولایت د فورمولي کوټ د کلي عالمانو مشرانو او مخورو د یوي غونډي په جوړولو سره د افغانستان د اسلامي انقلاب د لاري د شهیدانو لوړ مقام ته درناوي وکړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د غونډي په پیل کي د قران عظیم الشان څو آیتونه ولوستل شول وروسته محترم مولوي محمد موسي اخند زاده د اسلام د مبین دین لەپلوەدشهیددمقاماوارزښت‌پەبارەکي‌خبري‌وکړي‌او دشهیدانوپاك‌روح‌ته‌یي‌دعاوکړه.

وروسته څو تنو برخه والو د موضوع په ارتباط خبري وکړي او په بیلا بیلو برخو کي یي د افغانستان د اسلامي امارت له لوړو ارزښتونو سره خپل غوڅ ملاتړ او پیوستون څرګند کړ او چمتووالي یي وښود چي هره شیبه تیار دي د حق د لاري له مجاهدینو او سنګردارانو سره اوږه په اوږه د هیواد په ګوټ ګوټ کي د افغانستان د اسلامي امارت د دښمنانو پر خلاف خپلي سربښندونکي مبارزي ته دوام ورکړي .

په پاي کي د غونډي برخه والو د رب العزت دربار ته ددعا لاسونه پورته کړل او د مفسدو عناصرو په وړاندي یي د هیواد د لاري د سنګردارانو د لازیاتو بریالیتوبونه هیله وکړه .

ملك حسن له بنیامین نتنیاهو سره اړیکي شکولي دي

یاسر عرفات د عربي هیوادونو د مشرانو د بیړني غونډي د جوړولوغوښتنەوکړه

د المغرب پاچا ملك حسن د اسرائیلو له صدراعظم او ددغه هیواد د لیکود ګوند له مشر بنیامین نتنیاهوسرەاړیکي‌شکولي‌دي.

د اسرائیلو مطبوعاتو خبر ورکړ چي : د المغرب پاچا د نتنیاهو له خوا د لیکونو له منلو او لوستلونه ډډه کړي ده .

مطبوعاتو څرګنده کړیده چي د المغرب پاچا ویلي دي چي په راتلونکي کي به د نتنیاهو له خوا هیڅ راز لیك تر لاسه نکړي.

او دغه موضوع نتنیاهو ته په المغرب کي د اسرائیلو د استازي د اودادون له خوا هم وړاندي شوي ده .

د اسرائیلو د کار ګر ګوند یو قانون پوه رفعي ادري په دي وروستیو وختو کي المغرب ته سفر کړي دي چي د منځني ختیځ د سولي د بهیر په اړتیا د بنیامین نتنیاهو پیغام د المغرب پاچا ته وړاندي کړي .

د اسرائیلو مطبوعاتو د المغرب د پاچا له خولي خبر ورکړ چي ویلي یي دي ده نتنیاهودسي ان ان په تلویزیوني شبکه کي لیدلي دي چي له بنې او ژبي نه یي د تیري او تاو تریخوالي نښه نښاني څرګندیدلي .

باید وویل شي چي د عربو او اسرائیلو تر منځ د ۱۹۹۵ میلادي کال د سولي له موافقه لیك وروسته المغرب او اسرائیلو د یو بل په هیوادونو کي سیاسي نمایندګي پرانستلي چي د نتنیاهو په واکمن کیدو او د قدرت له ګدي نه د اسرائیلو د کارګر ګوند په ګوښه کیدو سره بیرته وتړل شوي .

د یو بل خبر له مخي د فلسطینیانو مشر یاسر عرفات د منځني ختیځ د سولي د بهیر په ارتباط د اسرائیلو د دښمنانه سیاست او دعربي هیوادونو تر منځ د زیاتي هماهنګي لپاره د عربي هیوادونو د مشرانو د بیړني غونډي د جوړیدو غوښتنه کړیده .

له زلزله ځپلو کسانو سره د افغانستان د اسلامي امارت د مرستو مواد د رستاق د ولسوالي په غمځپلو خلکو وویشل

د افغانستان د اسلامي امارت د مرستي د موادو کاروان په دي وروستیو وختو کي د تخار ولایت د رستاق ولسوالي ته ورسید او په مصیبت ځپلو کسانو باندي وویشل شول .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبریال خبر راکړ په دغو موادو کي دوه زره ملیونه افغاني نغدي پیسي ، یو زرو شپږ سوه څلویښت بوري غنم او یوزرو نهه سوه دوه بوري وریجي او بوره شامل دي دا مواد د افغانستان د اسلامي امارت د شپږ کسیز هیأت لخوا دغي ولسوالي ته ولیږدول شول او په دي وروستیو وختو کي د زلزلي له امله په مصیبت ځپلو کسانو باندي وویشل شول .

د رستاق ولسوالي خلکو د افغانستان د اسلامي امارت ددغو مرستو له امله کورودانی وواېەاودلوي‌خداي‌ج‌لەدربارنەیي‌دستراجرهیلەوکړه.

د استخباراتو عمومي رئیس د بغلان له والي او ددي ولایت له قوماندانانو سره وکتل

د استخباراتو عمومي رئیس د بغلان ولایت له یو شمیر جهادي قوماندانانو سره د کندز په ولایت کي وکتل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د استخباراتو عمومي رئیس محترم قاري احمد الله د بغلان ولایت له والي محترم قوماندان بشیر خان او ددي ولایت له جهاد ي قوماندانانو هر یو قوماندان فضل الرحمن ، قوماندان غلام حضرت ګرګر سره وکتل او د نظامي او امنیتي موضوعګانو په باب یي خبري وکړي .

ددغي کتني په بهیر کي د بغلان ولایت میړنیو قوماندانانو د ګلم جم ملیشو د دسیسو د شنډولو په لاره کي خپل بشپړ تیاري څرګند کړ او ټینګار یي وکړ چي د خپل ژوندانه تر وروستي سلګي پوري به د افغانستان د اسلامي امارت د ارزښتونو نه دفاع کوي .

په سعودي عربستان کي د سیلاوونو له امله لس تنه ووژل

په سعودي عربستان کي د سیلاونو له امله لس تنه وژل شوي او زیات شمیر ټپیان شویدي .

دغه کسان پرون د جیزان ایالت په یو واټ کي د سیلاو په اوبو کي ډوب شول چي دا سیلابونه د سختو بارانونو په نتیجه کي ددغه هیواد په زیاترو هغو برخو کي چي لږ سیندونه لري راوتلي دي. تر اوسه ددغو سیلاونو له امله د تلفاتو او زیانونو په باب دقیق شمیر او اندازه معلومه نه ده خو د ملکي دفاع پیسونه هلي ځلي کي وي چي د هغو افرادو ژوند چي د استوګني په ځینو سیمو کي بند پاتي دي له هیلکوپترونه په ګټي اخستو سره وژغوري.

په ریاض کي مامورینو ویلي دي چي هیلکوپترو د۱ ډول ځلیرویشت تنه ژغورلي دي چي د سعودي جنوب ختیځ په وادي بیشاکي بند پاتي وو.

د شریعت د عملي نفاذ ...

د حکومت یو لوړ رتبه هیئت چي د کوهستان د ضلعي د کمشنر مرستیال ډاکتر احسان الحق هم په کي ګډون درلود د کوهستان د ضلعي د قبایلو له مشرانو سره مذاکراتو او تفاهم ته کښیناستل او د مذاکرتو د بریالیتوب ډیره هیله هم کیدله خو دا مذاکرات هم ناکام شول د کوهستان د ضلعي د جلکوټ د سیمي اوسیدونکي قبایلي مشر د نورو قبیلو په نسایندګي حکومت ته ویلي دي چي د شریعت له نفاذ او په کال ۱۹۹۲ د ځنګلونو په وهلو د حکومت له پلوه د جاري حکم تر اخستلو پوري به دوي چاته هیڅکله هم اجازه ورنه‌کړي‌چي‌پەدي سیموکي‌سرشمیرنەوکړي.

د کابل ولایت د ملکي او ...

چي د امنیه قوماندانی، د کابل د استخباراتو د ریاست د محکمو د ریاست د څارنوالي د ریاست، مستوفیت او د کابل ولایت نورو مربوطو دایرو د چارواکو په ګډون جوړه شوي وه د کاري رپوټونو له وړاندي کیدو وروسته ددغو ادارو د مسوولینو او په غونډه کي طرحه شویو نظریو او پیشنهادونو په باب غور او څیړنه وشوه .

د غونډي د کار په پاي کي د کابل ولایت والي محترم مولوي عبدالمنان«نیازي» د هغوي د ستونزو د حل کولو په باب لازمي لارښووني وکړي چي د خپلو مربوطو چارو ډ پر مختګ په کار کي له پخوا زیاتي هلي ځلي وکړي .

د طالبانو پر خلاف د لویدیځ ...

وویل چي د طالبانو شرعي اقدامات . فخر وړ دي که د شریعت د نفاذ په وجه ملګري ملتونه او امریکا هغوي په رسمیت نه پیژني نو د دوي هیڅ پروا کول په کار ندي ځکه امریکا او ملګرو ملتونو خو د دوه و لسیزو نه زیات چین هم په رسمیت نه وپیژندلی خو هیڅ اثر یي ونه کړ جنرال حمید ګل د یوي پوښتني په ځواب کي وویل چي د طالبانو په وجه زما تبصري او څرګندوني ځکه غلطي ثابتي شوي چي ما په ځمکنیو وسایلو او خبرو باور کاوه لیکن وروسته راته څرګنده شوه چي د الله تعالي رضا بله ده .

سمستر جدید کورس عقیدتي...

الاسلامیه و مسوول کمیته سویدن در این جلسه صحبت نموده اماده گي شانرا جهت تمویل مرکز تربیوي وزارت پلان ابراز کردند .

در پایان محفل تحایف توسط سرپرست وزارت پلان به استادان مرکز توزیع گردید. در کورس متذکره لسانهاي عربي، انگلیسي، خدمات تخنیکي کمپیوتري توسط استادان مجرب تدریس میگردد.

در مراسم افتتاح سمستر جدید کورس متذکره محترم قاري جمال الدین مسوول کورس اعضاي هیأت رهبري وزارت پلان استادان وطلاب کورس اشتراك ورزیده بودند.

روسانو مسعود ته د ملو ...

چي د طالبانو د اسلامي تحریك او د اسلامي امارت مخه پري ونیسي تر څو د اسلامي نظام زریني وړانګي او ملکوتي انګازي د منځني اسیا د هیوادونو د اوسیدونکو غوږونه ونه رسیږي.

په اسلام اباد کي د ...

رسمیت پیژندلي دي او د ملګرو ملتو له سازمان نه غوښتنه کوي چي هغه په رسمیت وپیژني او په دي سازمان کي د افغانستان څوکي د افغانستان اسلامي امارت ته وسپاري.

ددغي کتني په بهیر کي د پاکستان د بهرنیو چارو محترم وزیر ژمنه وکړه چي د افغاني سوداګرو د سوداګري د مالونو ترانزیتي ستونزي به د پاکستان د اسلامي جمهوریت له مقاماتو سره مطرح کوي او ډیر ژر به یي حل کړي.

یادونه

ښاغلي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300

د شریعت تبصره

نشست مزار شریف به جزرسوایي بیشتر ملیشه ها نتیجه اي در قبال نداشت

اخیراً گروه هاي باغي جبهه متحد ملي! دور هم گرد آورده شدند تا به صفوف شان گویا انسجام و اتحاد بخشیده و پالیسي جدید متکي بر ضرورت هر چه عاجل به اصطلاح اعاده صلح در کشور را تحت غور قرار داده و دامنه جلب و جذب افراد و گروه هاي دیگر را وسعت بخشند. از آغاز این جلسه مشهود و آشکار بود که این گرد هم آيي بنا بر هدایت مستقیم و فشار هاي علني اجنبیان دایر گردیده و بنا بر گزارش رسانه هاي خبري یك هفته قبل از این نشست احمد شاه مسعود که همواره کوشیده است تا خود را آزاد و غیر وابسته به خارجیان نشان دهد،بطور مرموزو مخفي به ایران رفته و گفتگو هايي با سران ایراني و رقیب دایمي اش حکمتیار داشته است . در جریان این دعوت!!؟ حکام ایراني، مسعود را با حکمتیار آشتي داده و در نتیجه آن حکمتیار حاضر شد تا به مزار شریف بر گردد. اما حقیقت چنین نبود، زیرا اگر مسعود بنا بر کدام دعوتي و یا به میل خودش به ایران میرفت حاجتي نبود تا سفرش مخفي انجام پذیرد، از جانب دیگر در حالیکه حکمتیار به منظور حفظ جانش از شر پلان هاي قاتلانه مسعود مجبور به زندگي تبعیدي در ایران گشت هیچگاهي ممکن نبود که به وعده ها و بیانات مسعود اعتماد کرده و به اراده خود به مزار بر گردد بلکه فشار شدید حکام ایراني ویرا مجبور به ترك ایران و رفتن به مزار شریف ساخت .

در جریان نشست هاي این جلسه به نمایندگي از هر گروه باغي یك یك تن به عنوان سر کرده و یا نماینده با صلاحیت گروه خود اشتراك ورزیده بودند. اما به نماینده گي از جمعیت بر علاوه رباني، مسعود نیز در جلسه دیده مي شد،از موجودیت رباني و مسعود در نشست سران گروه ها !! ظاهر میگردد که اختلافات رباني و مسعود لاینحل بوده و اکنون مسعود مدعي رهبریت دارو دسته خودش (شوراي نظار) در جمعیت بوده و رباني را منحیث رئیس جمعیت نمي پذیرد چه رسد به اینکه موصوف را به صفت رئیس جمهور قبول کند. موجودیت حکمتیار در جلسه سوالاتي ایجاد کرد که چطور شد حکمتیار بر خلاف بیانات رادیوي یك روز قبل اش موقف بي طرفانه خود را زیر پا کرده و به عنوان رهبر یك تنظیم در جلسه مخالفین امارت اسلامي افغانستان اشتراك نمود و این خود مظهر آنست که یا بیانات یك روز قبل حکمتیار سخنان خودش نبوده و یا اشتراك در جلسه سران باغیان به اراده خودش صورت نگرفته است، حاضرین این گردهم آيي در ظاهر امر به شمولیت سیاف در جبهه متحد اصرار ورزیدند که این اصرار اوشان نشاندهنده اینست که گروه هاي باغي دیگر نمي توانند موقف متزلزل و چهره چند روي سیاف را از این بیشتر تحمل کنند، حتماً آنها اصرار ورزیده اند تا سیاف در حالیکه از همه امتیازات مادي و مزایاي حرکات نظامي ملیشه ها مستفید مي شود چرا علناً از قرار گرفتن در پهلوي آنها ابا مي ورزد ؟ البته در این نکته سردمداران ائتلاف حق به جانب نیز هستند در حالیکه شوراي عالي و اجرائیه تنظیم سیاف همواره همبستگي و حمایت شانرا از امارت اسلامي افغانستان اعلام داشته اند، سیاف شخصاً حاضر نشده تا اعلامیه شوراي اجرائیه خود را تائید نماید این حقیقت خود نشان میدهد که سیاف از جمله مخالفین امارت اسلامي است اما در ظاهر خود را گوشه زده است بر علاوه سیاف نقابي بر رخ کرده که سه روي دارد،از یك جانب حامیان بین المللي خود را تحت عنوان مخالفت با تشخص و اقتدار اهل تشیع اغفال نموده و مبالغ هنگفت نقدي آنها را در کیسه مي اندازد از جانب دیگر ملت مجاهد افغان را به خیال خودش گول زده که گویا موصوف مخالف اتحاد با ملیشه ها و بقایاي کمونیزم بوده و یك شخصیت جهادي و وفادار به اهداف جهاد مي باشد و در قدم سوم انسجام و تداخل گروه سیاف در تشکیلات مسعود جبهه باغیان را اطمینان مي بخشد که تنظیم سیاف جزئي از اتحاد مخالف تحریك اسلامي طالبان است و حقیقتاً که چنین است زیرا حمایت مسعود بواسطه سیاف به ذات خود حمایت از ملیشه هاي دیگري که یاران مسعود اند مي باشد اما سران جبهه شمال که حریفان قبلي سیاف اند در نشست اخیر واضحاً اعلام داشتند تا سیاف علناً و به زبان خود شخصیت و موقف خود را تبارز دهد و دیگر به یك تیر سه فاخته را شکار نه کند .

هدف عمده دیگر نشست مزار از سراسیمگي شدید باداران خارجي ملیشه ها یعني روسیه ایران و هند در رابطه به جریانات اخیر سیاسي سرچشمه میگیرد، زیرا در این اواخر شخصیت هاي سلیم و معقول جهان آزاد چون وزیر انکشاف روابط هالند، مارتن شوگر محقق و ادیب امریکایي و غیره مجامع بین المللي جهانیان را مخاطب قرار داده و امارت اسلامي افغانستان را یك اداره و حکومت قوي، متحد و سالم قلمداد نموده و جهانیان را به گشایش باب مذاکرات و روابط با امارت اسلامي دعوت نموده است. این اظهارات خود نشان دهنده واقعیت ها و حقایق در کشور ما به جهان بوده که خیلي زود امید مي رود تا جامعه جهاني نیز این واقعیت را بپذیرد و آنگاه کلبه، ویرانه باغیان منهدم و آمال شیاطین خارجي زیر خاك خواهد شد .

مخالفت هاي اخیر دوستم و وحدتي ها در شهر مزار شریف که منجر به سنگر گیري آنها بر ضد یکدیگر شده و اخطار هاي قهر آمیز دوستم به مسعود نیز دلایل سراسیمگي بیشتر حامیان خارجي ملیشه ها و ضرورت به تدویر چنین نشستي شمرده مي شود تا به جهانیان نشان داده باشند که گروه هاي باغي مصروف استحکام صفوف شان اند و میان خود هیچکدام اختلافي ندارند .

پایان بي نتیجه و بي ثمر جلسه مذکور نشان داد که نشست مزار در نتیجه عرق ریزي جواسیس روس، ایران و هند جبراً بالاي سران ملیشه ها تحمیل گردیده و به جزء رسوایي بیشتر آنها دست آوردي نداشته است، زیرا اختلافات ملیشه ها اکنون به جایي رسیده که هیچگاه حل آن ممکن نخواهد بود و خیلي زود است که جامعه جهاني عموماً از حقایق و واقعیت ها در کشور ما آگاهي حاصل نموده و امارت اسلامي افغانستان را منحیث ممثل واقعي اراده و خواست ملت مؤمن ما بپذیرد زیرا پاره گي هاي ائتلاف ملیشه ها دیگر قابل دوخت نیست و لو اگر خیاطان ماهري چون ایران، روس و هند هم داشته باشند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press